مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخڑ ۲۰۲۳/۰۶/۰۳

د جمهوریت د سقوط عوامل
د جنګسالارانو ونده
(اتمه برخه)

(ډاکټر عبدالله د سنګار په حالت کې)

تر ټولو ستر ورانوونکی، په سیاسي جامه کې جنګسالار ډاکټر عبدالله (۱)

(د ډاکټر عبدالله شخصیت، اصل او نسب)

ډاکټر عبدالله د امریکا د (سي، آی، اې) له هغو مزدورانو او غلامانو څخه دی چې تل یې تر ټولو جګړه مارانو ډېر زیان افغان ولس ته رسولی او د جمهوریت په سقوط کې تر ټولو ستر مخرب برخه وال ؤ، نوموړی د خپلو شخصي ګټو د ترلاسه کولو پر وړاندې هېڅ ملي ارزښتونو او نوامیسو ته ژمن نه دی. واک ته د رسیدو په لاره کې په هېڅ ډول ناروا کړنو نه دی تړلی، تر دې چې له خپل نسب څخه هم منکریږي. عبدالله چې مور او پلار یې پنجشېریان دي، د ولسمشرۍ په ټاکنو کې د دې لپاره چې د پښتنو رایې خپلې کړي، پښتنو ته یې ځان پښتون معرفي کړی ؤ، د خپل پنجشیري پلار پر ځای یې د خپلې سکه مور دویم میړه (پلندر) محی الدین ننګیالی چې د توخیو له قوم څخه ؤ، پلار کړی ؤ، ښایي د نړۍ په تاریخ کې بل داسې څوک نه وي چې په ټاکنو کې د بریا په موخه د خپل نسب په اړه دا ډول ښکرور دروغ ووایي.

د ډاکټر عبدالله د اصلیت په هکله ځینو کسانو مالومات لیکلي او ویلي دي خو تر ټولو ښه مالومات مرحوم علامه عبدالشکور رشاد صاحب وړاندې کړي وایي:«محی الدین ننګیالی یو ډېر شریف سړی ؤ، دی اصلاً د زابل د سیوري ولسوالۍ اوسیدونکی او په ختې توخی ؤ چې د کندهار په میوند ولسوالۍ کې اوسېده، کله چې اروابناد محمد هاشم میواندوال چې د میوند ولسوال ؤ نو هلته یې له ده سره وپېژندل، بیا چې کله میوندوال صاحب کابل ته راغی نو دی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

يې هم له ځانه سره کابل ته راوست او د کابل په ښاروالۍ کې يې مقرر کړ. ښاغلی ننګیالی یو ډېر پاک او متقي سړی ؤ، ده له اروابناد عبدالروف بینوا سره هم انډیوالي درلوده.»
رشاد صاحب زیاتوي:«عبدالله عبدالله د یو نیم کال [ماشوم] ؤ چې پنجشیري پلار يې د هغه پنجشیرۍ مور طلاقه کړه. د طلاقولو په جریان کې یوه ورځ د عبدالله عبدالله پلار د هغه له مور سره کابل ښاروالۍ ته ورغلل چې د جایداد مسئله حل و فصل کړي، په هغه ورځ محی الدین ننګیالي د عبدالله عبدالله مور ولیده او خوښه يې شوه... هغه وو چې بینوا صاحب د خپله جیبه پیسې په کې ورکړې او د عبدالله عبدالله مور يې محی الدین ننګیالي ته وغوښتله چې د نکاح پر مهال د عبدالله عبدالله پالنه او روزنه هم د محی الدین پر غاړه واچول شوه نو په همدې اساس ډاکټر عبدالله عبدالله د محی الدین ننګیالي په کور کې رالوی او ظاهراً د هغه زوی وبلل شو.»
څوک چې له عبدالله سره له نږدې بلد دي هغه یو بې کفایته، درواغجن، وعده خلاف، د یو دوه مخې کس په توګه پېژني، نه یوازې پښتنو ته ځان پښتون ورپېژني او درې ژبو ته ځان پنجشېری، بلکې د سړیو او ښځو (مردانه او زنانه) خویونه هم کوي، نوموړی د ښځو د سینګارتوکو سره مینه لري، د نړۍ په کچه ښکلي او لوړبیه کالي پیري، د ډاکټر عبدالله حرکتونه، ناز او اداګاني او کرشمې، د نرښځیو په څېر دي، دا ډول کسان زموږ په هېواد کې ښځنوکي (زنچو) بلل کیږي.
د ولسمشرۍ د ټاکنو پر مهال یو کس لیکلي وو:«د عبدالله جان د جیب ګل د ښځو د سپنې ګل ته پاتې کیږي، که له حق ویلو تېر نه شو، په نړۍ کې د ده په څېر بل ولسمشر چا لیدلی دی؟ که هغه ولسمشر شي تر غرمې پورې به له آریشګاه څخه راونه وځي.»
بده خو لا دا چې ډاکټر عبدالله یو فاسد او زناکار هم دی چې له خپلې ښځې سره يې خیانت کړی دی. د هغه د بداخلاقیو یو انځور خواله رسنیو ته راوتلی ؤ چې د (مریم نجف) په نوم یوه ښځه يې په غېږه کې پرته ده، دا د عبدالله د زناکاریو څخه (مُشت نمونه خروار) مانا لري، د ده له ښځینه چال چلنده داسې ښکاري چې نوموړي ټول عمر په اخلاقي فساد کې تېر کړی دی.

(د ډاکټر عبدالله اصلي میرمن فخریه)

(د عبدالله نامشروع ښځه مریم نجفي)

ډاکټر عبدالله که په رښتیا د طب ډاکټر وي، خپله ډاکټري (چې د خلکو د درملنې سپېڅلي دندې مسؤلیت لري) پرېښوده، برعکس د افغانانو د وژلو (قصابۍ) دنده يې غوره کړه (چې باید ډاکټر ونه وبلل شي) د خلکو د وژلو او د هېواد د ورانولو په موخه، د افغانانو د قاتلانو له مشرانو، برهان الدین رباني او احمد شاه مسعود سره یو ځای شو، په نوي بمه لسیزه کې عبدالله له مسعود سره یو ځای له ګلبدین حکمتیار، د هزاره ګانو د وحدت ډلې او د جنرال دوستم له ځواکونو سره په جګړو کې د کابل ښار وران او ویجاړ کړ چې د کابل ښار د افشارو او د ښار جنوبي سیمو په ورانولو او د خلکو په وژلو کې يې لویه برخه اخیستې ده. د سپټمبر له یوولسمې پېښې وروسته د امریکا د (سي، آی، اې) د شمالي ټلوالې په اجیرانو کې ډاکټر عبدالله تر ټولو صادقانه او له اخلاصه ډکه دندې تر سره کړې دي چې له امله يې امریکایانو ډېر ستایلی دی، د ده په اړه د امریکا د(سیا) جنرال ګیري شرون داسې لیکي:«موږ چې په پنجشېر کې کوز شوو نو د ډاکټر عبدالله، فهیم او انجینر عارف سره مو ولیدل، ما له ډاکټر عبدالله سره پخوا څو ځله لیدلي وو، په لومړي ځل مې په (۱۹۹۷ز) کال کې د مسعود سره د لیدنې پر مهال په تالقانو کې وپېژاند... په زړه پورې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لیدنه وه او [د پنجشېر] په دره کې په دومره لنډ وخت کې چې ما له هغه سره لیدلي او کتلي وو، ما هغه ډېر خوښ شو. (سي، آی، اې په پنجشېر کې. ۱۰۰- ۲۸۰مخونه)
د امریکا متحده ایالاتو د (C. I. A) لوړپوړو افسرانو لخوا ډاکټر عبدالله او فهیم ته په پنجشېر دره کې (۱۰۷) ملیونه ډالر ورکړل شول.
کله چې د جمعیت جګړه مارانو د ډاکټر عبدالله په ګډون کابل اشغال کړ او عبدالله د بهرنیو چارو وزارت خپل کړ، لومړنی کار یې دا وکړ چې «له امریکایانو سره یې، د (ایم تي ای) سند لاسلیک کړ، دغه سند امریکایي ځواکونو ته جواز ورکړ چې پرته له هر ډول محدودیت به پوځي عملیات کوي او له بشپړ حقوقي او قضایي مصونیت به برخمن وي. پر همدې بنسټ، امریکایي ځواکونو په نیمو شپو د افغانانو کورونو ته ننوتل، پېغلې، سپین ږیري او ماشومان یې ووژل، افغانان یې په سپیو تالاشي کړل، په سپیو یې وخوړل او د ډېرو بې ګناه افغانانو سترګې یې وتړلې او زندانونو ته یې وغورځول... ډاکټر عبدالله پنجشېریانو ته بل لوی کار دا وکړ چې «د بهرنیو چارو وزارت د بشري منابعو د ریاست د معلوماتو پر بنسټ، کله چې ډاکټر عبدالله عبدالله د بهرنیو چارو وزیر ؤ، د بهرنیو چارو وزارت کارکوونکي نږدې ٦٠ سلنه له پنجشېر څخه [چې ډېر بې سوادان هم په کې وو] مقرر شوي وو.» (د محمد الله حلیم سیرت له لیکنې څخه.۲۰۱۴/۵/۲۲ز)
عبدالله او د ده مشر برهان الدین رباني بهرنیو ځواکونو ته ویل چې طالبان یوازې پښتانه دي، زموږ او ستاسو سره همدا پښتانه جګړې کوي، تاسو غټ، غټ بمونه پرې واچوئ، واړه بمونه کار نه ورکوي... .
که جنرال عبدالرشید دوستم د خپلې بې سوادۍ او حماقت له امله په افغانستان کې د امریکایانو وژل شوي عسکر شهیدان بلل، ډاکټر عبدالله چې تل یې بهرنیانو ته به غوړه مالي او چاپلوسۍ کې وخت تېر کړی دی، د بهرنیو اشغالګرو، وژل شویو عسکرو ته په درناوي قایل دی، هغه پر حامد کرزي له دې کبله نیوکې کولې چې کرزي د بهرنیو ځواکونو بمبارۍ غندلې چې تل ملکي وګړي په کې وژل کیدل، عبدالله چې له حامد کرزي سره د ۲۰۰۹ز، کال په ټاکنو کې کاندید ؤ په خپلو خبرو کې وویل:**«له بده مرغه چې په افغانستان کې ولسمشر اصلاً د ناټو ایتلافي ځواکونه ګرم او ملامت بولي، په داسې حال کې چې همدې ځواکونو په افغانستان کې سوله او امنیت ټینګ کړي دي.»**
ډاکټر عبدالله لکه د خپل مشر احمد شاه مسعود په څېر د نړۍ د ډېرو استخباراتو اجېنټ ؤ، انګرېزي استخباراتو عبدالله ته د جاسوسۍ د ښوونو او زده کړو تر څنګ د انګرېزۍ ژبه هم ور زده کړي ده، امریکایي لیکوال ستیوکول د ده د انګریزۍ ژبې د زده کړې په اړه په خپل کتاب (د پیریانو جګړې. په ۱۷۵مخ) کې لیکي:«برتانوي څارګرو اکثراً د مسعود اعتباري مرستیالانو، لکه د بهرنیو اړیکو مسؤل عبدالله ته انګریزي ژبه ورزده کوله.» دا چې ډاکټر عبدالله د انګرېزانو له اجېنټانو څخه ؤ نو د خپلې ورسپارل شوې دندې د ترسره کولو په موخه یې په هره برخه کې د انګرېزانو له ګټو ساتنه کوله، نوموړي له ډاکټر اشرف غني سره د ولسمشرۍ په ټاکنیزو مبارزو کې د خپلو چاپلوسیو په لړ کې یو ځل بیا د انګرېزانو د وژل شویو عسکرو ستاینه وکړه او د هغوی وژل یې حلاله سرښندنه وبلله، هغه جګړه چې بهرنیو ځواکونو هېواد ته راوړي وه هغه یې سوله وبلله، عبدالله وویل:**«موږ باید د انګرېزانو د عسکرو قربانۍ هېرې نه کړو چې په افغانستان کې یې سوله او آرامي راوستلې ده.»**
(https://www.isna.ir/news)
عبدالله د بهرنیو چارو وزارت په موده کې داسې کوم کار ونه کړ چې د افغانستان او افغانانو په خېر تمام شوی وي، ټول وخت یې د خپل باندې او پنجشېریانو په خدمت کې تېر کړ، که د افغانستان د ګټو او خېر په نوم یې کوم کار کړي وي مهرباني دې وکړي په ګوته دې کړي.
هغه مهال چې ډاکټر عبدالله د بهرنیو چارو وزیر ؤ، د ده د وزارت په موده کې له پښتنو سره خورا سخت مخالفت او تعصب روان ؤ، تر هغې چې یوه ورځ زه (لیکوال)، ډاکټر خوشال روهي او د ولسمشر کرزي یو مشاور، د بهرنیو چارو وزارت له یو رییس سره د ځینو مشکلاتو د حلولو په موخه روان وو، کله چې د دروازې مسؤلینو (چې ټول د نظار شورا لنډغړي وو) وپېژندو چې پښتانه یو، نو په بېلابېلو پلمو یې تر ۳۰-۲۰ دقیقو پورې ایسار کړو او په دروازه کې ولاړ وو.
عبدالله ټول عمر له پښتنو سره په دښمنۍ کې تېر کړی دی، نوموړي د افغان، افغانستان، ملي بیرغ، ملي سرود، د پوهنتون نوم او نورو ملي ارزښتونو کرکه کوله، که په خپله یې د ملي ارزښتونو په اړه په ډاګه څه نه شول ویلی خو په حقیقت کې د پردې تر شا د هغه افغانستانیانو تر شا ولاړ ؤ چې ویل یې: **(ما افغان نیستم)** سربېره پر دې عبدالله پر نویو برېښنایي پېژندپاڼو باندې د افغان او اسلام کلمې نه منلې، د عبدالله غوښتنه دا وه چې په پېژندپاڼو کې دې د افغان پر ځای د اړونده قوم نوم ولیکل شي، نوموړی د نورو افغان دښمنو په څېر په دې باور دی چې افغان او پښتون یو نوم دی، یوازې پښتانه افغانان دي نور قومونه افغانان نه دي. که د عبدالله خبرې چا په غور سره اوریدلې وي،

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هېڅ کله يې په خپلو خبرو کې د افغانستان خلک افغانان نه دي ياد کړي، کله چې دی افغانان يادوي نو وايي:(مردم افغانستان)
لومړنی بريښنايزه پېژندپاڼه ولسمشر اشرف غني واخيسته خو عبدالله د نورو شمالي لنډغړو په څېر د نوي تذکرې له اخيستلو ډډه وکړه.
عبدالله تر خپله وسه پښتنو ته له هرې لارې زيانونه اړولي دي، د ډاکټر عبدالله له پښتون ضد کړنو او څرګندونو په ډاګه څرګنديږي چې هغه پښتون نه بلکې **(د پښتون په کور کې لوی شوی يو نمک حرامه پښتون دښمنه پنجشېری دی.)**
يوازې له پښتنو او پښتو ژبې سره په بهرنيو چارو وزارت کې د عبدالله او انډيوالانو تعصب نه ؤ روان، بلکې په ټولو وزارتونو او ادارو کې د هر پښتون دښمن کس بدنيتي او مخالفت جريان درلود چې تر خپله وسه ډېرو تاجيکانو مشکلات ورته جوړول چې يوه بېلګه يې زما د سترګو ليدلی حال دی: داسې چې څو کاله وړاندې ما د خپل مرحوم کاکا عبدالستار آخړ (چې د پوهنې وزارت د تاريخ او جغرافې ليسانس استاد ؤ) د تقاعد اسناد جوړول، د اداري فساد (رشوت غوښتنو) او ژبنې تعصب له امله مې ونه شول کړای چې په لنډه موده کې اړونده اسناد تکميل کړم، وروسته له ډېرو منډو رامنډو چې کله د کابل د دربيمې ناحيې د وثايقو په محکمه کې چې د کاکا ميرمنې ته مې شرعي وثيقه جوړوله نو غوښتن ليک مې په پښتو ژبه وليکه، د محکمې رييس چې يو متعصب تاجک ؤ، غوښتن ليک مې وړاندې کړ، غوښتن ليک يې وکوت بيا ماته وکتل ويې ويل:**«چه نوشته کردی؟ چرا فارسي نوشته نه می کنی؟ ايرا کی می فهمه؟»**
ما ورته وويل: پښتو او دري دواړه رسمي ژبې دي، ته چې په پښتو نه پوهېږې دا ستا خپل مشکل دی.
د محکمې رييس يو مامور ته غږ کړ، ويې ويل:«يک عريضه را برايش نوشته کو.»
ومې وويل: زه په دري ښه ليکل کولی شم تاسو ولې له پښتو سره دښمني کوئ؟ دا خو له اساسي قانون سره دښمني ده. دا مهال چې قاضي پوه شو چې زما خبرې قانوني دي، نو هغه راغوښتل شوی مامور چې په قوم وردګ ؤ، ورته يې وويل:**«تو اين عريضه را بخوان چه ميخواهد.»** مامور ورته وويل: د عبدالستار ميرمن غواړي د تقاعد وثيقه جوړه کړي.
د محکمې رييس چې په مشکل جوړولو کې متخصص ؤ، په غوښتن ليک يې د خوست له ابتدايي محکمې مالومات وغوښتل چې زما د کاکا د ميرمنې د وراثت وثيقه اصلي ده که جعلي؟
هغه ؤ چې کله له خوست څخه د ليږل شوي مکتوب ځواب رارسيده شپږ مياشتې پرې تېرې شوې، د خوست له اړونده محکمې مو د ځوابي مکتوب شمېره او نېټه ترلاسه کړه او دلته مو مکتوب وموند، ما چې ځواب شوی مکتوب د محکمې رييس ته وړاندې کړ، نو دا مهال له هغه څخه خپل ناولی عمل هېر شوی ؤ، ويې ويل: **«عجب است، به همين قدر گپ تقاعد از ولايت معلومات خواسته شده؟»**
ورته مې وويل:دا مشکلات خو تاسو جناب راته جوړ کړي دي، په دې خاطر چې غوښتن ليک مې په پښتو ليکلی ؤ، تاسو له ولايت مالومات غوښتي وو او اوس درن هېر دي. د محکمې رييس غلی شو، احکام يې پرې وليکل او وروسته له دوو کلونو هلو ځلو مې د تقاعد اسناد تکميل کړل.

نېټه:۱۴۰۲/۳/۱۲ل. ل

نور بيا

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ